


پروفیسر عبد الله بختانی

## د پروفیسر عبد الله بختاني پیغام

ګرانو محترمو خوږو ورونو:
دکندهار پوهنتون رئیس ډاکتر حضرت میر توتا خېل.
دپاچا خان علمي څېړنیز مرکز مشر څېړندوی شیرشاه رشاد!
السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.
ستاسو د روغتیا، خوشحالۍ او بریالیتوبونو په هیله:
دا چې د تېرو څلوېښتو کلونو له تاریخي پیښو څخه د زده کړې په علمي څېړنیز سیمینار کښې مو ماته بلنه راکړې وه او زه د وجود د کمزورتیا او ناروغۍ سره هم په دې بریالی شوم چه درشم، په څېړنغونډه کښې کښېنم د پخوانو او نوو دوستانو سره وګورم او د زړه خواله وکړم، له تاسو څخه ډېره ډېره مننه.

د ځوانۍ له پیل څخه هیله من وم چې کرار کرار د کندهار په شمول د هېواد ټولې سیمې ووینم. دا د یو بېوزلي او لاس تنګي لیکوال د ځوانۍ یوه آرزو یا هوس وو چې،ددې زمانې د پیسو په شان، ترشا مالي او مادي پشتوانه نه درلودله، مګر د شاعر خبره:

دو چیـــــز آدمـــــــی را برانــــد بزور
یـکـی آب و دانـه دگـر خـاک گـور

ورو ورو ((آب و دانه)) یا نصیب او قسمت د ختیځ او کابل د ولایاتو ترڅنګ بغلان، کندز، تخار او بامیان ولایتونه ئې راباندې ولیدل او د کندهار او هرات پر ځای یې مسکو او لیننګراد (سن پیترز بورګ) ته ئې ګوزار کړم.

د هغه سفر یوه خاطره داسې ده چې یو ځل د هغه هېواد د علومو اکاډیمۍ، د ختیځ پېژندنې د انیستیتوت دافغان پېژندنې دبرخې مشهور استاد پروفیسور دووریانکوف زه او زما ملګری محترم محمد اکبر معتمد شینواری مېلمانه کړي وو او زمونږ له خاطره دنوموړي انیستیتوت څو تنه نور علمي غړي ئې هم غوښتي وو. ددوستانه آزاد بې آجندې ګپ شپ په ترڅ کښې دیوې پوښتنې په ځواب کښې ما وویل:

– متاسفانه تر اوسه پورې ما کندهار نه دئ لیدلی.

–استاد دووریانکوف کټ کټ وخندل او وئې ویل:

شابس! دافغان اکاډیمۍ پښتو ټولنې علمي غړی، دافغانستان دانشمند، ادیب او لیکوال په مسکو کښې ناست دئ لیننګراد ئې لیدلی دئ خو تر اوسه یې کندهار نه دئ لیدلی.

زه پیکه شوم. صحبت پر مخ روان وو. په خبرو اترو کښې پر مخ ولاړو تر هغه چې د دووریانکوف زما دیوې پوښتنې په ځواب کښې وویل:

– متاسفانه تر اوسه پورې ما لیننګراد نه دئ لیدلی –

ما هماغسې کټ کټ وخندل او ومې وویل:

عجیبه ده! دشوروي دعلومو اکاډیمۍ مشر څېړندوی، لوی پروفیسور کابل او کندهار لیدلی دئ او لیننګراد ئې نه دئ لیدلی . . .

ما خو خپل کسات واخست خو باید ووایم چې ددې خبرو یو لطف دا دئ چې په تاریخي لحاظ مسکو او لیننګراد یو تر بله سره هماغسې رابطه لرله لکه کابل او کندهار چې درلودله.

ما هملته له ځان سره وپتیله چې کله کابل ته ورسېدم، ډېر ژر کندهار ته ځم. مګر ((آب و دانه)) او نصیب و قسمت زما دا هیله هله ترسره کړه چې په ۲۰۰۶م کال زه او ښاغلی لېوال د پښتو نړیوالې ځېړنغونډې ته بلل شوي وو، کویټې ته په لار ماښام د کندهار ښار ته ورسېدو شپه مو په منډیګک ماڼۍ کښې وکړه او سهار ((د سپین بولدک)) په لور رهي شوو.

له هغې خوا هم دغسې ماښام ورسېدو دشپې په دریو بجو له منډیګک څخه وخوځېدو، دسهار لمونځونه مو په کلات کښې او سباناری مو په غزني کښې وکړ.

ګرانو ورونو !

دا ځل ښه وو چې ستاسو په بلنه درغلم. هلته مو ښه وپاللم. څلور شپې مو وکړې. درشاد بابا په مزار مو دعا وکړه. داکاډیمیسین رشاد صاحب کتابخونه مې وکتله. دعلم او ادب پخوسټو سره مې ملاقاتونه وشوو. زړې خاطرې مو را تازه کړې. دنوو ځوانانو په رشادت او د ادب او احترام په کمال، به مې موټی موټی غوښه اخستله. کندهار دتازه او وچو مېوو او دمصنوعاتو دننداړتون ننداره مې وکړه. دتاریخي فرهنګي برم او نوم و نشان ترڅنګ دهېواد هغې سیمې اقتصادي غوړېدو ته زیات ډاډمن شوم.

دعینو په تالار کښې، کرۍ ورځې دپخو مستندو څېړنو له اورېدو مې پندونه او دمازیګر او ماښام ترمنځ مهال له آزاد چکر څخه خوندونه واخېستل. ان تر دې چې دمیرویس بابا په مزار له دعا او هملته جومات کښې دماښام دلمانځه له خاص کیفیت سره روح مې ژوندی شو.

په څېړنغونډه کښې له هر محترم څخه به مې په نرمو او کلکو الفاظو دتېرو څلویښتو کلونو دغمیزې غمونه او د دولتونو له خوا دغمونو د راپیدا کولو لامله ګڼې، شکوې، اعتراضونه او انتقادونه، واورېدل.

سړی که ورته ښه ځیر شي له غمیزې څخه دټولو رازېږېدلو غمونو لنډیز په یو ټکي کښې کېدلی شي.

هغه ټکی:

جنګ جنګ جنګ دی.

په همدې موده کښې جنګ خپلو فجایعو سره!

هم له شماله راباندې تېل شوی.

هم دزمکې دکرې له هغه مخ دسمندرونو له هغې غاړې راباندې نازل شوی.

هم زمونږ دخاورې له دې اړخه او له هغې اړخه دځمکې له مخ نه.

هر څه چې وو، له هرې خوا چې وو، جنګ جنګ دی. په جنګ کښې حلوا او ډوډی نه ویشله کیږي. کورونه او ښارونه ورانیږي. کروندې شړکیږي... دوینو ویالې بهیږي... که دجنګ کیسه خوږه هم وي ساعت ئې ډېر تریخ او نتیجه ئې ډېره ترخه وي.

نو مونږ تباه او برباد شو.

دا خبرې خو ډېرې شوي او ډېرې به وشي، مګر علاج او چاره؟

حکیمانو خو مشخصې نسخې وړاندې کړې او وړاندې کوي ئې.

وړاندې دې ئې کړي.

خو که څوک زما نادان ساده ټکو ته دزړه غوږونه خلاص کړي، نو وبه وایم:

جنګ دحیوان او انسان یو عمل دئ چې یو پر بل د ((زور)) دکارولو په وسیله رامنځته کېږي.

دزور دکارولو ترجمه یا بل نوم ((تشدد)) دئ. هر وخت، په هر ځای، په هر دلیل، د هر چا له خوا، پر هر چا باندې زور چلول یا تشدد کول دمقابل لوري په زړه کښې ((نفرت)) زیږوي.

چې ددې قضیې مخالف مفهوم کېدی شي چې ((عدم تشدد)) بیا ((مینه او محبت)) زیږوي.

هم دا د هر انسان، حتی د هر حیوان، بیالوژیک او سایکالوژیک خصلت دئ.

ددې عملیې تسلسل او دوام او د هغې د ساحې خپرول دواړو خواو او ټولو اړخونو ته خطرناک عواقب رازیږوي. په دې صورت هماغه یو روحي عکس العمل یا رپاکشن (Reaction)، تسلسل او دوام مومي:

نفرت. تشدد ←

نفرت ← تشدد . . .

او په دې کښې هېڅوک هېڅوک هیڅوک گټه نه کوي. پر ته له تا وانه هېڅ چا ته گټه نه لري.

په دې وخت کښې چې د تشدد وسایل زیات او خطرناک شوي دي له خطر څخه د ژغورنې لاریوازې یو درمل لري چې هغه ((عدم تشدد)) دئ. خو شرط ئې دا دئ:

څوک چې په عدم تشدد باور لري. هغه چېرې هم پخپله د تشدد عمل نه ترسره کوي. د دې فکر تبلیغ کوي او . . . ملگري هم لټوي او څوک چې لگیا وي تشدد کوي. د هغه تائید، ملاتړ او ملگرتیا هم نه کوي.

له ((عدم تشدد) سره ((عدم تعاون)) تړلی دی.

کېدی شي چې زما دې خبرې پورې هغه عناصر وخاندي چه په خپل زر او زور غاور دي او په انساني مدني ارتقایي ټولنیز ژوند کښې هم یوازې او یوازې خپل ځان او منافعو ته گوري.

نو هغوی دې لطفاً توجه وکړي:

د مړ زغونـــدې د بـــل د لاس آلــه شــي
چــې لــه ورونــو سره کانـدي څوک جنگونه
مړ باز غوندې به خپل ژوندون ضایع کــړي
چه د بـــل د بنـــدي تــوب لــري فکرونه

د ټولو د هوسا، ساهو، ډاډمن، د مینې، محبت، ورورولۍ د ښه ژوند په هیله.

والسلام
کابل – خیرخانه د ۱۳۹۳ د غویي یوولسمه.
ستاسو خدمتگار
عبدالله بختانی